مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک ری ځدراڼ ۲۰۲۳/۰۲/۲۰

# د بروکسل کنفرانس ډیورنډ کرښه یوه تاریخي تېروتنه

## DURAND LINE: A HISTORICAL ERROR AND THE NEED DOR SELF-DETERMINATION

د بروکسل نړیوال کنفرانس کې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پښتنو ټاکني حق په اړه بحثونه وشول!

د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې بلې غاړې ته پښتانه د خپل برخلیک د ټاکني حق په اړه څه نظر لري.؟
د افغانستان شاهي دولتونو، جمهوري حکومتونو او افغانانو هېڅکله د ډیورنډ لعنتي کرښه په رسمیت نه ده پېژندلي.




د ډیورنډ کنفرانس ګډونوالو ډیورنډ کرښه د نړیوالو قوانینو په بنسټ یوه غېر قانوني کرښه وبلله. په دې کنفرانس کې د نړیوالو ستراتېجیکو مفکرینو، سیاسئ کارپوهانو او سیاسي پالیسي جوړونکو ترمنځ د ډیورنډ معضلې د حل په اړه او په افغانستان کې د ټلپاتې سولې بهیر په اړه، د دې لعنتي کرښې زیاتیدونکې ناوړه اغېزو، پایلو په اړه او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پښتنو د خود ارادیت یا ټاکنې حق په اړه هر اړخېزې خبرې اترې او بحثونه ترسره شول. په دې کنفرانس کې د فرضي کرښې دواړو غاړو پښتنو افغانانو ګډون درلود.
د بروکسل نړیوال کنفرانس د اهمیت په اړه په معتبرو نړیوالو رسنیو کې لیکنې لیکلي هم شوي، لکه د بلژیک، جرمني هیوادونو په رسنیو کې او ان د اسلام اباد پولیت پرس وېبپاڼې کې هم لیکنې شوي دي.
)German News Today, The Word Newswire, Islamabadpolitical Press (
دا نړیوال کنفرانس د یوې تاریخي تېروتنې په نامه د نړیوالې شورا د عامه ډیپلوماسۍ او ټولنېز ډیالوګ لخوا رابلل شوي و. د غونډې ګډونوالو د پښتنو د خپلواکۍ، خودمختارۍ، د ټاکنې حق په اړه مفصلې خبرې اترې وکړې، کومې خبرې چې تراوسه پاکستان یې ردوي او نه غواړي واوري.

د 1893 کال راهیسې د ډیورنډ استعماري کرښه د ټولو پښتنو د بشري حقونو او غوښتنو خلاف د پښتنو په ستره تاریخي مورنې خاروه کې، د پښتنو په زړونو او ایمانونو کې د انګرېزي استعمارګرو لخوا د منافقتونو، خیانتونو، قربیکاریو او دوکه بازیو په پایله کې کښل شوي ده. د ډیورنډ لعنتي کرښې خپل خپلوان، کورنۍ، کلي، پلرونه له خپلو اولادونو، تره یې له وېرونو، خوېندې له خویندې پرته د هغوي له خبرولو څخه سره جلا کړي دي. د ډیورنډ کرښې د یوه توکم یا یوه قبیلې کرنېزه ځمکې دوه ځایه ویشلي دي. ان د یوه پلار د یوه ځوی ځمکه د کرښې یوې او د بل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځوی ځمکه د کربښې بلې غاړې ته پرته ده. لذه دا چې د انګریزي نړیوال ظالم ښکېلاک درست پښتانه، د یوه واحد ملت د کورنۍ غړي او د پښتنو ستره لرغوني دودېزه ټولنه یې د خپلو سیاسي، پوځي او اقتصادي ګټو خوندي کولو لپاره په ډېره سپین سترګوتوب سره ویشلي ده. د دې سرې کربښې له امله پښتانه د ټولنېزو ، کولتوري، سیاسي، رواني او زده کړې ودې له پلوه هم د خپلو بنسټېزو بشري حقونو څخه محرومه کړل شوي دي.
د افغانستان د برتانوي هند او تزاري روسیې ترمنځ د بفرستېټ یا حایلي سېمې رول درلود. د ټرون له مخې قبایلي سېمې نه د برتانوي هند او نه پاکستان پورې اړه لري او قبایلي سېمې یوازې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ یوه موقته بیلونکې نفوذي حایلي سېمه وه. د ازادو قبایلو اووه ایجنسي نه برتانوي هند او نه افغانستان شاهي دولت پورې تړلې شوي وې. له همدې امله دې سیمو ته ازاد قبایل ویل کېږي. د ډیورنډ کربښه اصلاً د نړیوالې پولې په مانا نه ده کښل شوې.
پاکستان د پښتنو د بیان ازادۍ او د بیرته یووالي حقونو څخه تر اوسه انکار کړي دی. همدغه پاکستان د هغو کسان لپاره د خود ارادیت خبرې کوي، کوم چې په پاکستان کې نه اوسیږي. خو په پښتونخوا او بلوچستان کې د مېشتو پښتنو د خپلواکۍ، خودمختارۍ او خپل اختیار د حقونو څخه انکار کوي.
د پاکستان د جوړېدو سره سم پاکستاني اشتبلیشمنټ پښتانه له شکنجو، ځورولو، ربړولو، ظلم او جبر سره مخامخ کړي دي. د پخوانۍ فاټا په سېمه کې د پښتنو هدفي وژنې او غیر قانوني پرته له محکمې امره وژنې په پراخه توګه ترسره کېږي. پښتانه د پاکستاني پوځیانو د وحشتناکو، ظالمانه شکنجو او غیر بشري ناروا سزاګانو سره مخامخ دي.

پاکستاني محاکم د پاکستاني حکومتونو سره ګډ کار کوي. دوی د پښتنو له قضايي عدالت او بنسټېزو حقونو څخه ډډه کوي او د پښتنو بنسټېز بشري حقونه تر پښو لاندې کوي.
پاکستاني رسنۍ د پاکستاني پوځ تر مطلق کنټرول او اغېز لاندې دي. کوم پښتانه مشران چې د پاکستاني حکومت ناروا غوښتنو، سیاستونو پر ضد د پاکستاني استیبلشمنټ، د پولیسو ظلمونو او د پوځ د جنایتونو پر ضد خبرې کوي بندیانوي یا په درواغجنو تورونو تورنیږي او ان پټې وژنې ترسره کوي.
د بشري حقونو نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا هم په پاکستان کې د پښتنو پر ستونزو باندې هم خپلې سترګې پټې کړې دي.
د حیرانتیا وړ خبره دا ده چې نړیواله ټولنه او لویدیځ هیوادونه چې په ټوله نړۍ کې د بشر د حقوقو ملاتړ خبرې کوي، په دې اړه بیا غلي او چوپه خوله پاتې شوي دي. پاکستان کې د پښتنو په اړه د نړیوالې ټولنې چوپتیا، کوم چې پښتانه تر ټولو په سختو شرایطو کې ژوند کوي، خپل غوړونه کاڼه اچولي دي.
په دې کنفرانس د پاکستان دوه موخي پالیسو باندې سختې نیوکې وشوې، څنګه د پاکستان په څېر یو هیواد څنګه دوه ګونې متضاد معیارونه لرلې شي. دوی د کشمیریانو او د فلسطینیانو د خپلواکۍ حق غواړي، خو خپلو خلکو ته ورته هماغه حقونه نه ورکوي.؟
وسمهال په دې هر ځوک پوهیږي، چې د پښتنو درد یو ربښتیني درد دی او د سلو کلونو راهیسې د پښتنو درد او پښتون پوښتنه د هر پښتون افغان په زړه کې دفن شوې.
وسمهال د دې تمه او انتظار کیږي، چې ایا دغه هڅې کومې پایلې ولري، که نړیوال بشري حقونو سازمانونه او فعالین یو ځلې بیا دې مهمې مسئلې باندې خپلې سترګې پټې کوي. د نورو بدو پیلو په تمه دې هم واوسي.
په پاکستان کې له څو کلونو راهیسې د پښتنو غورځنګونه لکه د پښتون ژغورنې غورځنګ تر سخت فشار لاندې دي.
په وروستیو کلونو کې په پاکستان کې دا ولسي غورځنګ د بشري حقونو د سرغړونو او د پوځیانو لخوا د پښتنو پر وړاندې د ظلمونو او تبعیضي چلند د پای ته رسیدلو غوښتنې او سوله ییزه مبارزه کوي.
د پښتون ژغورنې غورځنګ یوه مهمه موخه د پخوانیو جګړو د پاتې شویو ځمکنیو ماینونو پاکول دي، چې ډېری بې ګناه خلک په ځانګړې توګه ماشومان یې وژلي او ټپيان کړي دي. پښتانه په حکومت کې د لږ استازیتوب او په خپلو سیمو کې د پانګونې د نشتوالي، د بشري حقونو د سرغړونو او توپیري تبعیض سربیره له سیاسي او اقتصادي پلوه بې برخې شوي دي.
په 2018 کال کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د عدم تشدد بنسټ ایښودل شوي دی. دغه غورځنګ په پاکستان کې د پښتنو د حقونو لپاره د مبارزې په برخه کې ډېر مخکښ دی. د پاکستان حکومت او استبلیشمنټ لخوا دغه غورځنګ چې د پښتنو د حقونو لپاره مبارزه کوي، ترسخت فشار لاندې راوستل شوي دی، مشران او فعالان یې په نښه کیږي او نیولي شوي دي. دې پښتون خوځښت له خنډونو سره سره د بدلون ملاتړ ته دوام ورکړي دی او په پاکستان کې د پښتنو وضعیت ته د نړیوالو پام اړولي دی. نړیواله ټولنه او د بشري حقونو ډلې بنایي د دغه غورځنګ په ملاتړ کې او په پاکستان کې د پښتنو حقونو د تامینولو لپاره خپله مرسته او همکاري وکړي. په پاکستان کې د پښتون ژغورنې غورځنګ چې له زور زیاتي او بشري حقونو سرغړونو سره مخامخ دی. دوی د خپل پښتنو د حقونو غوښتنه کوي.

د ډیورنډ کربښه د برتانوي امپراتورۍ د پوځي، سیاسي او اقتصادي فشار په پایله کې پر افغانانو تحمیل شوې ده. د ډیورنډ ټرون کې هیڅ ډول نړیوال اصول او قوانین په پام کې نه دي نیولي شوي. له همدې امله د پښتون پښتون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ترمنځ د ډيورنډ کرښه رسمي او قانوني پوله نه ګڼل کيږي. د ډيورنډ کرښې مسئلې يوه لار دا ده، چې دا مسئله بايد د ولسونو د خو ارادیت حق په چوکاټ کې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې حل شي. تر څو د ډيورنډ کرښې مسئله حل نه شي، په سيمه کې به ترهګري روانه وي.
د ملګرو ملتونو او نړيوالې ټولنې څخه وغوښتل شول، دې تاريخي تېروتنې ته او دې خونړې ستونزې ته د ولسونو د ټاکنې يا خود ارادیت حق په چوکاټ کې يوه مناسبه د حل لار ومومي. د دې تاريخي تېروتنې حل په سيمه کې د تلپاتې سولې او ثبات ټامينيدو په برخه کې مهم رول لوبوي.
د نړۍ تاريخ موږ ته رازده کوي، چې هېڅ نړيوال امپاير ښکېلاکګر ځواک له سلو کلونو نه ډير په پښو نه دی ودريدلی. انګريزي استعمارګر پوهيدل، چې دوی د تل لپاره په نړۍ کې زبر ځواک نه شي پاتې کيدلی. له همدې امله انګريزانو د هانګ کانګ تړون د 99 کلونو لپاره لاسليک کړ. د ډيورنډ کرښې تړون معيار هم د سلو کلونو لپاره ټاکل شوي، چې بايد د اوسني پاکستان 42 سلنه خاوره د يوه منظم دولتي پلان له مخې بيرته له افغانستان سره يو ځای شوې وای. څو دغه متنازعه موقتي کرښه په سمه توګه له منځه تللې وای. د ډيورنډ تړون په هماغه لومړۍ ورځ کله چې ومنل شو، مات کړل شو. افغانانو د تړون د اعتبار په مهال تر اوسه دغه تحميلي کرښه په خپل وجود کې نه ده منلې. افغانانو ته دغه کرښه هېڅ قانوني حېثيت او اهميت نه لري. دې کرښې د پښتنو په سياسي وده او ملي دولت جوړولو کې ډېر غټ ژور ګوزار کړي دی.
ولسواکي زموږ نن او راتلونکی ټاکي، که نن د اټکل 50 ميليونو ډيرو افغانانو څخه په يوه ټولپوښتنه کې پوښتنه وشي. د 51 سلنې ډير پښتانه افغانان نن د يو ويشلي قبيلوي هويت، ناامنې او اقتصادي بد حالت په ځای يوه ملي پياوړي، باثباته خپلواک افغان دولت جوړولو ته خپله رائيه ورکوي.
افغان ولس او افغان حکومتونو ته کله هم د خپل پر له پسې ناورينونو او يرغلونو له امله دغه تاريخي فرصت په لاس نه دی ورغلی، څو د پاکستان يرغلګر حکومت سره خپله دغه متنازعه خونړۍ ستونزه په قانوني او سوله ييزه توګه حل کړي.
وسمهال ډير نړيوال او سيمه ييز چارواکي، سياستپوهان، د منځنی ختيځ څېړنيز انسيتيتونه او نړيوالې رسنې او استخباراتي څارونکی دې پايلې ته رسيدلي دي، چې په سيمه کې يو شمېر ښنسټيزه برخليک ټاکونکي پوښتنې مطرح شوې دي. يوه له دغو پښتنو څخه د پښتونستان نړيواله مسئله ده، چې د ټولو پښتنو افغانانو راتلونکی سياسي برخليک په سيمه کې ټاکي.
د نړيوال قانون په بنسټ که چېرې د تړون يوه خوا منصرفه او يا لمنځه ولاړه شي، تړون په خپله له منځه ځي او يا په خپل لومړنی حالت کې نه پاتې کيږي. د ډيورنډ تړون له انګريزانو سره په هند کې نه په لندن کې لاسليک يا په موقت ډول منلې شوی دی. انګريزان په سيمه او نړۍ کې په خپل زبر ځواکي کې له منځه تللي دي. د ډيورنډ په تړون کې اصلاً د امير عبرالرحمان خان لاسليک نشته. د تړون د لاسليک په مهال پاکستان اصلا شتون نه درلود. پاکستان هيځکله په قانوني توګه د تړون يوه غاړه نه شي بلل کيدلی. که نړيوالې محکمې ته د ډيورنډ لانجه وړاندې شي، نو پاکستان به دغې دعوا بايلونکی وي.
په کنفرانس کې د ډيورنډ فرضي کرښې دواړه غاړو پښتنو په خپلو خبرو کې په ښکاره ډول وويل: دغه کرښه يوه تاريخي تيروتنه ده، چې له امله يې تر اوسه پښتانه افغانان په يو او بل نوم وژل کيږي، معدني زېرمې لوټ کيږي، له اقتصادي ګواښ سره مخ دي، د پاکستاني پوځ ستراتيجکي پاليسو په چوکاټ کې ترهګري په لوی لاس دغو سيمو ته را وړل کيږي او د خپلو ګټو لپاره د جګړې اور بل ساتلې دی، له همدې امله د دې ستونزې ګواښ ټولې نړۍ ته متوجې دی او اوس د دی وخت رارسيدلی، څو په دې تړاو برخليک ټاکونکي پريکړه وشي او هغه پرېکړې بايد وشي کوم، چې دواړه غاړو افغانان يې غواړي، تر څو له دې امله راتوکيدلې ټولې ربړې او ستونزې حل کړل شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ